د افغانستان اسلامي امارت

د لوړوزده کړو وزارت

## میرویس خان نیکه زابل د لوړوزده کړو مؤسسه

د مالي او اداري چارو معاونیت

# له کمپیوټر لیب او معلوماتي سرچینو څخه د ګټې اخیستني طرز العمل

ترتیب کوونکي :معلوماتي ټکنالوژي آمریت

کال: ۱۴۰۲ هـ ش

## له کمپیوټر لیب او معلوماتي سرچینو څخه ګټي اخیستني طرز العمل

**مقدمه:** میرویس خان نیکه زابل د لوړوزده کړو مؤسسې محصلان باید د دې طرزالعمل مطابق رفتار وکړي تر څو له کمپیوټر او انټرنیټ څخه یې ښه او سالمه ګټه پوره کړې وي.

**موخي:**

- محصلانو ته د انلاین پلټني زمینه برابرول
- محصلانو ته د کمپیوټر په برخه کي د عملي زده کړو زمینه برابرول
- مؤسسه له مختلفو انلاین ډیټابیسونو سره وصلول تر څو محصلان ډېر معلومات لاسته راوړلای سي
- په پورته برخو کي مؤسسه په ملي او نړۍ واله کچه له سیالانو سره سیالول
- محصلان له عصري ټکنالوژۍ سره اشنا کول
- محصلانو او استادانو ته د کمپیوټر او ټکنالوژۍ په برخه کي د عامه پوهاوي سمینارونه او ورکشاپونه وړاندي کول

**د کمپیوټر لېب پېژندنه:** میرویس خان نیکه زابل د لوړوزده کړو مؤسسې کمپیوټر لېب د محصلانو او استادانو له پاره خدمات وړاندي کوي، د کمپیوټر او ټکنالوژي په برخه کي عملي زده کړو زمینه ورته برابروي او په انټرنیټ کي د پلټني زمینه ورته مساعدوي. ، د مؤسسې د نیټورک له پاره اړین تجهیزات برابروي او پر مناسبو ځایونو یې نصبوي.
کمپیوټر لېب د زده کړیالانو او اداري کارمندانو د ظرفیت لوړوني په موخه مختلف پروګرامونه دایروي او همدارنګه له استادانو او محصلانو سره د کمپیوټر په تخنیکي برخه کي مرسته کوي.

**کمپیوټر لېب د دې طرزالعمل موخو ته رسېدلو له پاره لاندي لازمي کړني تر سره کوي:**

علمي بنسټ د ټولني برخه وي، ځکه نو لازمه ده چي استاد، محصل او اداري کارکوونکی له علمي خپلواکۍ څخه په ګټنه د ټولني باورونو ته احترام ولري.

**۱. عملي زده کړي:** کمپیوټر لېب د مؤسسې محصلانو ته د کمپیوټر او ټکنالوژۍ په برخه کي د عملي زده کړو زمینه برابروي. استادان کولای سي محصلان د کمپیوټر لېب د مهالوېش مطابق کمپیوټر لېب ته د عملي زده کړو په موخه واستوي او خپلي تدریسي چاري په عملي شکل مخ ته یوسي. محصلان کولای سي په کمپیوټر لېب کي له شته سرچینو (کمپیوټر، انټرنیټ) او نورو ډیجیټل تجهیزاتو څخه د کمپیوټر لېب د قوانینو په رڼا کي ګټه واخلي او خپلي عملي زده کړي مخ ته یوسي.

**۲. انلاین پلټنه:** کمپیوټر لېب د مؤسسې محصلانو ته د انټرنیټ اسانتیاوي برابروي تر څو دوی وکولای سي انلاین پلټنه وکړي او خپلو سوالونو ته ځوابونه په انلاین ډول پیدا کړي. همدا راز محصلان کولای سي د خپلو کورنیو دندو په تړاو په انټرنیټ کي پلټنه وکړي. استادان او د مؤسسې اداري کارمندان هم کولای سي د کمپیوټر لېب د انټرنیټ څخه سالمه استفاده وکړي.

**۳. محصلان له عصري ټکنالوژۍ سره اشنا کول:** کمپیوټر لېب د مؤسسې محصلانو ته د عصري ټکنالوژۍ په تړاو سمینارونه او ورکشاپونه دایروي تر څو دوی اشنایي ورسره پیدا کړي.

**۳. له کمپیوټر لېب څخه ګټې اخیستنې وختونه او لارې چارې:** محصلان، اداري کارمندان او استادان کولای سي د مؤسسې په رسمي وخت کي له کمپیوټر لېب څخه استفاده وکړي.

**۴. ظرفیت لوړونه:** کمپیوټر لېب محصلانو ته د کمپیوټر د استفادې لارې چارې ښیي، سمینارونه او ورکشاپونه ورته دایروي.
**۵. د برېښنایي توکو ساتنه:** کمپیوټر لېب د کمپیوټر لېب د کمپیوټرانو څارنه کوي او د خرابېدو په صورت کي يې په ترمیم لاس پوري کوي، وینډوز ور انسټالوي، بایوس پاسورډونه يې محفوظ ساتي او انټیوایرس يې وخت پر وخت اپډېټوي. د کمپیوټر لېب ټول برېښنایي او غیر برېښنایي تجهیزات د مؤسسې د توکو د حفظ او مراقبت کوډنګ په سیسټم کي ثبتېږي.
**٦. له کمپیوټر لېب څخه استفاده کوونکو ثبت چارې:** کمپیوټر لېب له کمپیوټر لېب څخه استفاده کوونکو محصلانو، استادانو او اداري کارمندانو له پاره بېلا بېل د ثبت کتابونه لري او د هري ورځې مراجعین پکښې ثبتوي او وخت په وخت يې احصائیه په سافټ او هارډ بڼه له رهبرۍ سره شریکوي.

**د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د معلوماتي ټکنالوژي عمومي مدیریت د کمپیوټر لېب طرزالعمل په پورته ډول ترتیب شوی او د مېرویس خان زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي شورا په ( ۲ ) ګڼه پروتوکول غونډه کي ١٤٤٥ ٠٣ ٠٦ نېټې څخه قابل د تطبیق ده.**

**روح الله (مشـــال)**

**میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس**